# خـوشـال خـان

کله چي مغلو په هند کي پاچاهي کوله، د ملک شهباز په کور کي یو هلک پیدا شو ، کال ۱۰۲۲ هجري. پر دې هلک یې خوشال نوم کښېښود.
خوشال د کوچنیوالي څخه زړه ور او هوښیار وو. کله به چي د پلار سره په مجلس کي ناست وو د مشرانو او خپل پلار خبرو ته به یې ښه غوږ نیوه او په خبرو کي به یې ډېر فکر کاوه.
خوشال خان درې ورونه درلوده. خو تر ټولو ورونو دی هوښیار او پوه وو.
خوشال له کوچنیوالي څخه ډېر زړه ور معلومېده.

د خوشال پوهه او هوښیاري ورځ په ورځ زیاتېده په شل کلني کي یې ډېر کتابونه ولوستل او د زیاتي پوهي خاوند سو. په شل کلني کي یې په شعر ویلو شروع وکړه. شعرونه یې د پښتونولۍ د احساساتو ډک دي.

یوه ورځ ملک شهباز خان خوشال ته وویل، خوشاله زویه، که ته د خپل کام په مشرۍ ومنل شې نو څه به وکړې؟

خوشال ورته وویل، تر څو ژوندی یم د کام او اولس د هوساینې او د هیواد د لوړوالي د پاره به خدمت کوم. دا به زما د پاره د خوښۍ ځای وي چي زه خپل اولس ته خدمت وکړای شم.
کله چي خوشال خان د کام د خوا په مشرۍ وټاکل شو د هند پاچا اورنګزېب ورته وویل ستا پلار زما په دربار کي ډېر قدر لري. خو پام کوه چي پښتانه د مغلو په مقابل کي سر در څخه پورته نه کړي.
خوشال خان دده وخبري ته غوږ و نه نیوئ او پښتانه یې دمغلو مقابلې ته ودرول.



اورنګزېب چې ددې کاره خبر شو خوشال خان يې بندي کړ او د هند جېل ته يې ولېږه. خوشال خان په هغه جېل کې د غيرته ډک شعرونه وليکل. خوشال خان د ۷۸ کالو په عمر مړ سو. خو نوم يې تل ژوندی دئ.

د خوشال خان شعرونه خو ډېر دي خو دلته به يې يو شعر ولولئ:

چي ښايست لري په ستورو　　　داسمـــان نـــنداره ګـــوره
ددې خپل وجود په باغ کي　　　پـــه هـــر شان ننداره ګوره
چـــي هر ګل وته نظر کړې　　　د بـــاغـــوان ننداره ګوره
راشـــه وغـــــړوه سترګي　　　د جهـــان نـنداره ګـــــوره